# ارګ پاڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز



شپاړسمه ګڼه

**صاحب امتیاز:**
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

**د اړيکې شمېره:**
+93 (0) 202100633

**ایمیل:**
info@gmic.gov.af

**آدرس:**
مرمرينه ماڼۍ، بهرنيو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: ذوالقعده ۷، کال ۱۴۴۳ هجري قمري


## د اقتصادي کمېسيون غونډه ترسره شوه

په دې غونډه کې د کانونو او پتروليم وزارت په مشرۍ؛ ماليې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، ښارجوړونې وزارت او د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د استازي په ګډون يوې ګډې پاڼې ۵

## نشست‌های کمیته ملی حج به ریاست معاون اداری ریاست الوزراء تدویر یافت

نشست‌های جداگانه کمیته ملی حج به ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با اشتراک اعضای این کمیته برگزار گردید. بقیه ۲

## د کاپيسا والي او يو شمېر مسئولينو سره د رياست الوزراء سياسي مرستيال کتنه

د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء سياسي مرستيال محترم مولوي عبدالکبير د کاپيسا والي محترم قاري احسان الله بريال او د دغه ولايت يو شمېر مسئولينو سره په سپيدار ماڼۍ کې وکتل. پاڼې ۵

## پلان تطبیق بیش از ۱۸۰ پروژه عمرانی، از سوی شاروالی کابل برای سال روان ترتیب شده است



شاروالی کابل پلان تطبیق ۱۸۱ پروژه عمرانی برای سال روان خورشیدی در شهر کابل را ترتیب کرده است. محترم مولوی عبدالرشید بلوچ، شاروال کابل که در یک کنفرانس خبری در مرکز اطلاعات و رسانه های امارت اسلامی، در این رابطه صحبت می کرد افزود: برای تطبیق این پروژه ها ۴ میلیارد و ۸۱۲ میلیون پاڼې ۲

## د سيمې هېوادونو د افغانستان په کورنيو چارو کې پر نه لاسوهنه ټينګار

د سيمې د امنيتي سرمشريزې غړيو هېوادونو امنيتي سلاکارانو د افغانستان په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې او دوستانه اړيکو د ساتلو ژمنه کړې ده.
دغو سلاکارانو د افغانستان امنيت د سيمې د ټولو هېوادونو په ګټه بللې او څرګندوي، چې بقيه ۵

## د عاليقدر اميرالمومنين د جلا جلا فرمانونو پر اساس د سترې محکمې اړوندو ادارو کې تازه ګومارنې شوې دي

د عاليقدر اميرالمومنين د دريو جلا جلا فرمانونو پر اساس د سترې محکمې په اړوندو ادارو کې يو شمېر کسان پر دندو ګمارل شوي دي.
په ګمارل شويو کسانو کې محترم شيخ مولوي عبدالغفار بحر د قندهار زون د نظامي محکمې د رئيس په توګه، د سترې محکمې د نظامي منسوبينو د ديوان رئيس محترم مولوي خيرجان د ياد مسئوليت ترڅنګ د نظامي محاکمو د عمومي رئيس په توګه، محترم مولوي عبدالجليل آغا حسيني د کابل زون د نظامي محکمې د رئيس په توګه، محترم مولوي عبيدالله د کابل زون د نظامي محکمې د قاضي په توګه، محترم شيخ مولوي عبدالظاهر د کابل زون د نظامي محکمې د مفتي په توګه او محترم مولوي محمد زاهد اخوندزاده د کابل زون د نظامي محکمې د مفتي په توګه ټاکل شوي دي. #

## عاليقدر اميرالمؤمنين د کندهار د ټولو ولسواليو له ولسوالانو او امنيه قومندانانو سره وکتل

عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث والتفسير مولوي هبة الله اخوندزاده د کندهار د ټولو ولسواليو له ولسوالانو او امنيه قومندانانو سره وکتل.
په کتنه کې د کندهار والي محترم حاجي محمد يوسف وفا، د امير المؤمنين ځانګړو مشاورينو محترم شيخ الحديث مولوي محمد عمرجان اخندزاده، محترم شيخ مولوي محمد عيسی، محترم شيخ مولوي کمال زاده او محترم شيخ مولوي جان محمد مدني او يو شمېر نورو مسئولينو هم حضور درلود. پاڼې ۲

در تعامل به روی کشورهای جهان و همسایه باز است بقیه ۵

د ښځو د حقونو په اړه د م.م انديښنې ته د بهرنيو چارو وزارت غبرګون پاڼې ۲

وزارت کار: برای حل چالش‌های کارگران، اتشه کار ایجاد می‌کنیم بقيه ۵

د نجونو ښوونځيو د پرانيستلو په اړه د يوې اته کسيزې کمېټې جوړېدل پاڼې ۲

## سپردن خدمات زمینی سه میدان هوایی کشور به یک شرکت امارات



خدمات زمینی سه میدان هوایی افغانستان به شرکت «گک» یا «جی ۴۲» امارات متحده عربی واگذار شد.
محترم ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست الوزرا می‌گوید که امارت اسلامی پس از این قرارداد تلاش می‌کند که بقیه ۲

## د درې ميليون جلده نوي پاسپورټونو چاپ کېدل



درې ميليون جلده پنځه کلن پاسپورټونه تازه چاپ شوي دي او ډېر ژر به کابل ته راورسيږي.
د پاسپورټ رياست چارواکي وايي چې د دغو پاسپورټونو د لېږد لپاره په کابل کې د ملګرو ملتونو سازمان له دفتر سره خبرې شوې دي.
د پاسپورټ رياست وياند پاڼې ۵

## افزایش میزان صادرات زغال سنگ افغانستان به پاکستان

میزان صادرات زغال سنگ افغانستان به پاکستان افزایش یافته است. وزارت مالیه می‌گوید که از زمان روی کار آمدن امارت اسلامی تا اکنون، دو میلیون تُن زغال سنگ به بیرون از کشور به ویژه پاکستان بقیه ۵

## هېواد ته د پخوانيو چارواکو د راستنېدو لپاره د تماس کميسيون غوښتنه

له شخصيتونو سره د تماس ډلې کميسيون رييس وايي چې شخصيتونه يا پخواني دولتي چارواکي چې هېواد ته راستنېږي ځان او مال يې محفوظ دی او مشروع غوښتنې يې منل کېږي. پاڼې ۵

له شهيد منصور سره زما اړيکه او ملګري له ډېره پخوا وه، دا اړيکه مو د جهاد پر مهال لا قوي شوه. د امارت مشران په هيڅ وجه د ملا محمد عمر مجاهد، شهيد منصور او نورو شهيدانو وينې نه هېروي او نه به خپل مجاهدين هېر کړي، د دغه نظام لپاره ډېر پاکې وينې تويې شوې دي. موږ ته دې خدای د خپلو يتيمانو او شهيدانو د وينو پاللو او د وطن د خدمت توفيق راکړي او موږ به تل په دې اړه هڅه کوو.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند

## لويديځ دې له اسلامي امارت سره همکاري وکړي

قطري چارواکو په ډاګه کړې؛ د قطر حکومت له غربي چارواکو غوښتي، چې له اسلامي امارت سره اړيکې زياتې کړي.
فاينننشل ټايمز د قطر د بهرنيو چارو د وزير محمد بن عبدالرحمن آل ثاني له قوله څرګنده کړې: که نړيواله ټولنه د امريکا له وتلو وروسته له اسلامي امارت سره زياته همکاري کړې وای؛ ښايي وضعيت به لا ښه وای. پاڼې ۵

## د ترکيې د بشري مرستو بنسټ د افغانستان بې سرپرستو ماشومانو ته يو کمپلکس جوړوي



د ترکيې د بشري مرستو د بنسټ استازي د رئيس الوزرا له اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي سره په کتنه کې ژمنه وکړه چې د افغانستان يتيمو او بې سرپرستو ماشومانو ته يو معياري کمپلکس جوړوي. پاڼې ۵

**اقتصادي کمیسیون، د کانونو او پټرولیم وزارت په مشرۍ؛ مالیې وزارت، صنعت او سوداگرۍ وزارت، ښارجوړونې وزارت او د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د استازي په گډون یوې گډې کمېټې ته دنده وسپارله څو د مس عینک کان د استخراج په اړه له MCC چینایي کمپنۍ سره د شوي قرارداد تخنیکي اړخونه په پوره جزئیاتو سره تحلیل او یاد کمېسیون ته دې خپل راپور وړاندې کړي.**



## د ټاپي پروژې د عملي کولو وخت رارسېدلی

ټاپي د سیمې هېوادونو په کچه یو له لویو پروژو څخه ده چې له ترکمنستانه پیلېږي او له افغانستان او پاکستان نه په تېرېدو سره هند ته رسېږي. د دې پروژې په پلي کېدو سره به افغانستان په کال کې پنځه سوه میلیون ډالره عواید ترلاسه کړي او سلگونه بې روزگاره تنو ته به د کار زمینه برابره شي.
دغه پروژه په ټوله کې ۱۸۱۴ کیلومتره اوږدوالی لري چې له دې ډلې ۸۱۴ کیلومتره یې د افغانستان له خاورې د ترکمنستان گاز پاکستان او هندوستان ته انتقالوي.
د یادولو وړ ده چې د دغې سترې پروژې په تطبیق سره به افغانستان تر راتلونکي ۳۰ کلونو پورې له ۵۰۰ میلیون متر مکعب گاز څخه تر ۱.۵ میلیارد متر مکعب گاز ترلاسه کړي. د شته ارقامو پر اساس، د ټاپي پروژې په تطبیق سره به هر کال تر ۳۳ میلیارد متر مکعب د ترکمنستان گاز د افغانستان له خاورې پاکستان او هندوستان ته انتقال شي.
له بده مرغه دغه ستره او حیاتي پروژه په تېرو دوو لسیزو کې د امنیت د نشتوالي، بیروکراسي او د حقوقي او تخنیکي ستونزو له امله تطبیق نشوه، خو د اسلامي امارت په حاکمیت سره دغې مهمې پروژې ته جدي پاملرنه شوې او په پام کې ده چې د دې پروژې د تطبیق چارې ژر پیل شي.
کارپوهان په دې باور دي چې ټاپي د سیمې هېوادونو د اتصال په معنا ده او دا پروژه په اقتصادي، ټولنیز او سیاسي ډگر کې خورا ډېر اهمیت لري.
د اسلامي امارت د مسئولینو په وینا، د ټاپي پروژې تطبیق لپاره ټول تخنیکي او حقوقي موضوعات حل شوي او د دې مهمې پروژې د عملي کولو وخت رارسېدلی دی. #

## نشست‌های کمیته ملی حج به ریاست معاون اداری...

در این نشست‌ها پس از بحث و تبادل نظر پیرامون چگونگی پروسه حج امسال، تصامیم لازم اتخاذ گردید.
در این نشست‌ها، مسائل مختلف از جمله؛ طرح امنیتی ترتیب شده از سوی ریاست عمومی استخبارات و وزارت امور داخله، چگونگی توزیع پاسپورت به حجاج، انتقال حجاج توسط شرکت‌های هوایی آریانا و کام‌ایر، واکسیناسیون حجاج، تهیه کارت صحی به حجاج و انتقال ادویه‌جات، تهیه و تنظیم مسکن و وسایط ترانسپورتی برای حجاج، تنظیم اوقات پروازها، ارایه‌ی خدمات بهتر و تعلیم مناسک حج برای حجاج و برخی مسایل مهم دیگر مورد بررسی قرار گرفت و تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

## د ښځو د حقونو په اړه د م.م اندېښنې ته د بهرنیو چارو وزارت...

د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د ښځو د بشري حقونو په اړه د ملگرو ملتونو د امنیت شورا د اندېښنې په غبرگون کې وایي، دا اندېښنې له واقعیته لرې دي او زیاتوي، اسلامي امارت د منل شویو دیني او کلتوري لارښوونو په چوکاټ کې د ښځو او نجونو انساني حقونو تامین ته ژمن دی.
د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې همداراز د حجاب مراعتولو فرمان ته هم اشاره شوې او په کې راغلي چې پر افغان ولس د اسلامي ټولنې د مذهبي او کلتوري عقیدې سره په مخالفت کې هېڅ هم نه‌دي تحمیل شوي.
په‌دې اعلامیه کې راغلي: د افغانستان اسلامي امارت په داسې حال کې چې د ولسونو دیني ازادۍ ته درناوي او د خبرو له لارې د ستونزو پر حل باور لري، په ورته وخت کې د نړۍ له هېوادونو څخه توقع لري چې د افغاني ټولنې له عیني واقعیوتو په سم درک سره د افغانانو دیني او کلتوري ارزښتونو ته درناوی وکړي.
بهرنیو چارو وزارت د دې علامیې له لارې په افغانستان کې د بانکي او مالي سېسټم د جوړولو په برخه کې د ملگرو ملتونو د امنیت شوره له پرېکړې هرکلی کوي او یو ځل بیا یې له امریکا غوښتنه کړې له قید و شرط پرته د افغانستان کنگل شوې شتمنۍ ازادې کړي. #

## عالیقدر امیرالمؤمنین د قندهار د ټولو ولسوالیو له ولسوالانو او...

په دې کتنه کې د اسلامي امارت زعیم د کندهار د ولایتي ادارې چارواکو او نظامي مسئولینو ته خپل مشاورین وړپېژندلي او اړینې سپارښتنې او لارښوونې یې هم ورته وکړې.
په غونډه کې محترم شیخ الحدیث مولوي محمد عمرجان اخوندزاده او محترم شیخ مولوي محمد شفیع د اسلامي امارت په بریا کې د مجاهدینو د تکلیفونو او زیاتو قربانیو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه، چې اوس باید د دې نظام ساتنه وشي او د ولس د هوسایني لپاره شپه او ورځ کار وکړل شي.
وروسته عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث والتفسیر مولوي هبة الله اخوندزاده ټولو ولسوالانو او قومندانانو ته د دې سترو فتوحاتو او بشپړ امنیت مبارکي وویله او د هغو کسانو لپاره یې دعا وکړه چې په دې لاره کې یې قرباني ورکړې دي.
د اسلامي امارت زعیم زیاته کړه چې کومو علماء کرامو چې خبرې وکړې هغه ټولې موږ ته منظور او تائید دي او باید ټول یې عملي کړي.
امیر المؤمنین گډونوالو ته په لاندې ډول هر اړخیزې اصلاحي خبرې، لازمي لارښوونې او سپارښتنې هم وکړې:
۱ـ د علماء کرامو د خبرو یاداښت او لحاظ کوئ، عمل پرې کوئ؛ ځکه چې عمل ورباندې نه وي بېرته هېرېږي او له الله (ج) څخه یې د عملي کولو لپاره د توفیق غوښتنې دعا وکړه.
۲ـ سپارښتنه درته کوم، چې زما خبرې داسې یاداښت کوئ او عمل پرې کوئ لکه د شریعت یو حکم.
۳ـ د افغانستان اسلامي امارت پرمختگ په اطاعت او پیروي کې دی؛ نو د خپلو امیرانو اطاعت کوئ، که مو اطاعت ونه کړ کامیابي مو په ناکامۍ بدلېږي.
۴ـ زما به داسې اطاعت کوئ لکه د شریعت د یوه حکم او د افغانستان د اسلامي امارت دا یو ځانگړې صفت دی، چې اطاعت پکې شته دی.
۵ـ د افغانستان اسلامي امارت ټول فرمانونه پر خپل ځان عملي کوئ او د ولسوالیو ټولو مسئولینو او هر وگړي ته یې رسوئ.
۶ـ نیمگړتیاوې مو اصلاح کړئ، تېروتنې مه کوئ، ځکه که یې اصلاح نه کړئ، نظام او ولس ته تاوان اوړي.
۷ـ لکه څنگه چې مخکښې خلک الله (ج) واخیستل، که موږ هغسې کردار وکړو، نو موږ به هم الله (ج) واخلي.
۸ـ له عالمانو سره تل په اړیکه کې اوسئ، د مدرسو له مسئولینو او استادانو سره تل همکاري کوئ او تل ورسره ناستې کوئ.
۹ـ د خپلو امیرانو عیبونه د خلکو په مخ کې مه وایاست او مه هم په خپلو منځونو کې شکایتونه کوئ.
۱۰ـ شخصي نیتونه وغورځوئ، تل عدالت کوئ او هم د عادي خلگو په څېر ژوند وکړئ.
۱۱ـ د بیت المال د ټولو اسبابو او وسایلو زه او تاسې وکیلان یاست، د مصلحت په ځای کې یې باید مصرف کړو او داسې ساتنه یې باید وکړو، لکه د خپل شخصي مال.
۱۱ـ ټول یو د بل په کارونو کې همکاري کوئ او په خپلو منځونو کې اختلافات مه کوئ.
۱۲ـ یو د بل په کارونو کې مداخله مه کوئ؛ دا تکبر دی.
۱۳ـ د قاضیانو قدر او درناوی کوئ.
۱۴ـ زاړه مجاهدین مه شاته کوئ، د مجاهدینو د قربانیو قدر او عزت وکړئ؛ شل کاله یې مبارزه وکړه.
۱۵ـ د یتیمو ماشومانو لپاره چې پلرونه یې شهیدان شوي د تعلیم زمینه برابره کړئ، که مو دا کار وکړ نظام به لا ټینگ شي.
۱۶ـ له بې ځایه تصویرونو او ویډیوگانو څخه په جدي توگه ډډه وکړئ او مه خلک ورته ترغیبوئ.
۱۷ـ په خوراک او نورو چارو کې اسراف مه کوئ او د بل چا څخه تحفې هم مه اخلئ.
۱۸ـ د خپل صف تصفیې ته پاملرنه تل کوئ او بدو خلکو ته په خپلو صفونو کې ځای مه ورکوئ، ځکه بد اشخاص د مشرانو نوم بدوي.
۱۹ـ خپل لمونځونه په جماعت سره کوئ او په خپلو کوټو کې سبقونه «دیني درسونه» پیل کړئ.
۲۰ـ د مجاهدینو د پوهې سطحه لوړه کړئ، سمینارونه ورته جوړ کړئ، په اداري اصطلاحاتو یې بلد کړئ.
۲۱ـ کومو ولسوالیو کې چې مدرسې نه وي، ژر تر ژره یې جوړې کړئ.
۲۲ـ د غټو ټلیفونونو استعمال کم کړئ، انټرنیټ ته زیات وخت مه ورکوئ؛ ځکه چې قیمتي وخت مو ضایع کوي او هم به مو له لازمو دیني معلوماتو څخه بې برخې کړي.
۲۳ـ د خپلو سرونو وېښتان د شریعت مطابق جوړ کړئ، له زیاتو اوږدو څڼو څخه ډډه وکړئ.
۲۴ـ تاسې ماته دُعاگانې کوئ زه به تاسو ته دُعاگانې کوم او پر مسلمانانو دا لازمه ده، چې د خپل امیر لپاره به د صلاح دُعا کوي، امام ابوحنیفه (رح) د مذهب معتمد کتاب درالمختار کې لیکلي دي: ((ویجب ان یدعی له بالصلاح))
په وروستیو کې د ټولو ولسوالیو د امنیه قومندانانو په استازیتوب د پنجوایي امنیه قومندان مولوي فیضاني او د ټولو ولسوالانو په استازیتوب د غورک ولسوال مولوي مصباح خبرې وکړې او له امیر المؤمنین سره یې یو شمېر ستونزې او غوښتنې شریکې کړې. #

## سپردن خدمات زمینی سه میدان هوایی کشور به یک...

شرکت‌های هوانوردی پروازهای شان را به افغانستان از سر بگیرند.
قرارداد خدمات زمینی میدان هوایی کابل، کندهار و هرات با شرکت «گک» امارات متحده عربی به امضا رسید. محترم ملاعبدالغنی برادر در مراسم امضای این قرارداد می‌گوید که امارت اسلامی می‌خواهد با همه کشورها روابط بهتر داشته باشد و این قرارداد در اقتصاد کشور اثر مثبت خواهد گذاشت.
در همین حال، وزارت ترانسپورت و هوانوردی به این باور است که این شرکت اماراتی اعتماد شرکت‌های بزرگ هوانوردی را برای آغاز پروازهای شان به افغانستان جلب خواهد کرد. محترم غلام جیلانی وفا، معین وزارت ترانسپورت و هوانوردی، می‌گوید: با امضای این قرارداد، همه کمپنی‌های مهم بین‌المللی این توانمندی را پیدا می‌کنند که پرواز های شان را به گونه مصئون به افغانستان آغاز کنند.
تاکنون امنیت هوانوردی و حریم هوایی میدان‌های هوایی کشور به شمول کابل به شرکتی واگذار نشده است. وزارت ترانسپورت و هوانوردی می‌گوید که گفت‌وگوها در این باره با شرکت‌های معتبر جهانی جریان دارند. از سویی هم، نماینده شرکت «گک» امیدوار است که پس از این قرارداد شرکت‌های بزرگ هوانوردی پروازهای شان را به افغانستان از سر بگیرند. رزاق اسلم محمد عبدالرزاق، نماینده شرکت گک، می گوید: من دو چیز را در نتیجه این قرارداد می‌بینم؛ اول این که جامعه جهانی و شرکت‌های هوا نوردی جهان که از چند ماه به اینسو دور بودند، دوباره برگردند؛ و دوم اینکه شاهد رشد تجارت های شخصی و قرار داد هامیان تاجران داخلی و خارجی باشیم.
در این میان رییس شورای تاجران افغانستان در امارات متحده عربی واگذاری خدمات زمینی سه میدان هوایی افغانستان را به شرکت «گک» در رشد داد و ستد میان کابل و ابوظبی مهم می‌داند. #

## د نجونو ښوونځیو د پرانیستلو په اړه د یوې اته کسیزې...

اسلامي امارت په هېواد کې له شپږم ټولگي پورته د نجونو ښوونځیو د بیاپرانیستلو لپاره د سترې محکمې د رییس عبدالحکیم په مشرۍ یوې د اته کسیزې کمېټې له جوړولو خبر ورکوي. د اسلامي امارت د ویاند مرستیال محترم انعام الله سمنگانی وایي: دا کمېټه اته غړي لري چې په دوی کې عالمان او پوهان شامل دي. دوی د نجونو لېسو د پرانیستل کېدو په اړه خپل کارونه تر یوه برید کړي او موږ تمه لرو چې دا ستونزه په بنسټیز ډول حل شي. #

## پلان تطبیق بیش از ۱۸۰ پروژه عمرانی، از سوی شاروالی کابل...

افغانی بودجه در نظر گرفته شده است.
به گفتهء او، این پروژه ها تمامی نواحی شهر کابل را در بر می گیرد و بخش های سرک سازی، مدیریت آبهای سطحی، مدیریت موثر ترافیک و بهبود زیربناهای ترانسپورت عامه، بهبود وضعیت تنظیف شهر، حفظ وانکشاف ساحات سبز شهری، پلانگذاری و توسعه شهری وحفظ و مراقبت زیربناهای شهری را شامل می گردد.
شاروال کابل اطمینان داد که با تطبیق این پروژه ها، افزون بر ایجاد تسهیلات شهری برای باشندگان شهر کابل، زمینه های کاری فراوان نیز برای مردم فراهم خواهد شد.
در همین حال محترم محمد آصف جلالزی، رییس پلان، پالیسی، نظارت و ارزیابی شاروالی کابل گفت که بودجه عادی و انکشافی شاروالی کابل امسال به گونه مطلق از عواید داخلی تأمین می شود.
او با تأکید بر آنکه هم اکنون شرایط برای آغاز مجدد همکاری های مالی تمویل کنندگان خارجی شاروالی کابل فراهم است، خواستار از سرگیری کمک های تمویل کنندگان خارجی به این نهاد خدماتی شهری شد.#

## د اقتصادي کمېسیون غونډه...

کمپنۍ ته دنده وسپارله څو د مس عینک کان د استخراج په اړه له MCC چینایي کمپنۍ سره د شوي قرارداد تخنیکي اړخونه په پوره جزئیاتو سره تحلیل او یاد کمېسیون ته دې خپل راپور وړاندې کړي.
د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې تر مفصلو بحثونو وروسته د افغانستان برېښنا شرکت ته اجازه ورکړل شوه، څو له قراردادي شرکتونو سره د برېښنا شرکت د غیر اختیاري پروژو شوي قراردادونه فسخه، تجهیزات دې ترې تسلیم او پوره حفاظت یې دې وکړل شي.
همدارنګه د «ابونصر فراهي» سوداګریز بندر د نړیوال کېدو په موخه کرنې وزارت، د مالیې وزارت د ګمرکاتو ریاست، صنعت او سوداګرۍ وزارت او د ستندرډ ملي اداري ګډې کمېټې ته دنده وسپارله، څو د یادې موضوع په اړه تخنیکي بحثونه او څېړنې ترسره او راپور یې دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. #

## د کاپیسا والي او یو شمېر مسئولینو سره د ریاست الوزراء سیاسي...

په دې کتنه کې محترم قاري بریال د کاپیسا د سیاسي او امنیتي وضعیت د معلوماتو ورکولو ترڅنګ، له اسلامي امارت څخه د خلکو د ملاتړ ډاډ هم څرګند کړ.
هغه زیاته کړه، په یاد ولایت کې د بیارغاونې زیاتې پروژې تر کار لاندې دي او سږکال به لا نورې پروژې هم پلې شي.
د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال محترم قاري احسان الله بریال او نورو مسئولینو ته لازمې سپارښتنې او لارښوونې وکړې.#

## د ترکیې د بشري مرستو بنسټ د افغانستان بې سرپرستو...



د اسلامي امارت د ویاند مرستیال محترم انعام الله سمنګانی وایي چې په دې کتنه کې د ترکیې د بشري مرستو د بنسټ استازو، یتیمو ماشومانو ته د یو کمپلکس د جوړولو د ژمنې په ترڅ کې د ښوونې او روزنې، افغان محصلانو ته د تحصیلي بورسونو د برابرولو او په افغانستان کې د کرنیز سکتور د ودې په برخو کې د خپلو همکاریو د دوام خبر ورکړ.
د رئیس الوزرا اداري مرستیال محترم عبدالسلام حنفي په بېلابېلو برخو کې د ترکیې د بشردوستانه مرستو بنسټ د همکاریو په ځانګړې ډول د افغانستان له خلکو سره د بشري مرستو د قدردانۍ په ترڅ کې ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت به د فعالیتونو د دوام او د مرستو د رسولو په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.
د یادونې وړ ده چې د ترکیې د بشري مرستو بنسټ مخکې له دې څو ځلې افغانستان ته بشري مرستې لېږدولي او دولتي ادارو او اړمنو کورنیو ته یې رسولې دي. #



## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با تعدادی از علما و متنفذین ولسوالی گرزیوان ولایت فاریاب

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با علما و متنفذین ولسوالی گرزیوان ولایت فاریاب دیدار نمود.
در این دیدار، پس از بحث روی مسائل و مشکلات ولسوالی گرزیوان، محترم مولوی عبدالسلام حنفی وعده داد که به خواست‌های اهالی ولسوالی گرزیوان توجه و رسیدگی می‌شود.#

## لویدیځ دې له اسلامي امارت سره...

قطر یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې له اسلامي امارت سره اړیکې لري او له اسلامي امارت سره د امریکا او د هغې د اروپایي متحدینو ترمنځ د خبرو اترو منځګړی یادیږي.
شیخ محمد زیاته کړې؛ په دوحه کې د اسلامي امارت او لویدیځ تر منځ خبرې شوي، خو تر اوسه څرګنده نده، چې د افغانستان په اړه د دوی نظر څه دی؟!
هغه وویل، چې نړیواله ټولنه باید په "اقتصادي جبهه" کې برخه واخلي، چې په حکومت کې ورتیا او ظرفیت رامنځته، کارونه پیدا او په وده او پرمختګ کې ورسره مرسته وشي او په افغانستان کې د تلپاتې سولې ډاډ رامنځته او د "ټولو اړخونو" سره اړیکې وده وکړي. #

## د سیمې هېوادونو د افغانستان په کورنیو چارو کې...

د افغانستان په کورنیو چارو کې باید هیڅ راز لاسوهنه ونشي.
د تاجکستان د دوه ورځنۍ امنیتي سرمشریزې په وروستۍ اعلامیه کې دا هم ویل شوي، چې ټولې خواوې باید له افغانستان سره خپلې اړیکې روانې وساتي او د یوه روښانه کورني او بهرني سیاست په رامنځته کولو او له ټولو هېوادونو سره د دوستانه اړیکو د پراختیا لپاره کار وکړي.
د اسلامي امارت د ویاند مرستیال محترم بلال کریمي هم ډاډ ورکوي، چې افغانستان له نړۍ سره رغنده تعامل ته تر بل هر وخت ډېر چمتو دی.
سیاسي شنونکي محمد صابر صادقي هم ټینګار کوي، چې د سیمې د هېوادونو نه لاسوهنه به د افغان سولې او ثبات سره پوره مرسته وکړي.
کارپوهان پدې باور دي، چې د سیمې هېوادونه د خپلو ستراتیژیکو ګټو پر بنسټ له نورو هېوادونو سره تعامل کوي او اسلامي امارت ته په کار ده، چې له نړۍ سره په داسې طریقه تعامل وکړي، چې د افغانستان ملي ګټې په کې خوندي کړي. #

## افزایش میزان صادرات زغال سنگ افغانستان...



صادر شده است.
محترم احمدولی حقمل، سخنگوی وزارت مالیه می گوید: با روی کار آمدن امارت اسلامی، ما بیشتر از دو میلیون تُن زغال سنگ به خارج از افغانستان صادر کردیم و ما بیشتر از چهار میلیارد افغانی محصول بدست آورده ایم. سخنگوی وزارت مالیه می افزاید که این وزارت تعرفه بر صادرات زغال سنگ را ده درصد افزایش داده است.
بربنیاد اطلاعات وزارت معادن و پترولیم، چهار شرکت محلی در ولایت‌های شمال مصروف استخراج زغال سنگ هستند. معادن زغال سنگ افغانستان از رشته کوه‌های هندوکش در ولایت بدخشان آغاز و تا ولایت هرات به گونه کمربند ادامه می‌یابد. #

## در تعامل به روی کشورهای جهان و همسایه...

محترم انس حقانی، عضو ارشد امارت اسلامی افغانستان در یک گفت‌وگو با یک شبکه هندی از دهلی نو می گوید که دَر تعامل و گفت‌وگو به روی کشورهای جهان به شمول کشور های همسایه و هند باز است.
محترم حقانی می گوید: هند می‌تواند باب تعامل جدید را در افغانستان با امارت اسلامی بگشاید و با افغانان به مانند گذشته تعامل خوب داشته باشد، درب امارت به روی آنها باز است.
این گفته‌های آقای حقانی در حالی ابراز می‌شوند که پیش از این سهیل شاهین، رییس دفتر سیاسی امارت اسلامی در قطر نیز گفته است که اگر هند بخواهد می‌تواند سفارت اش را در کابل دوباره بازگشایی نماید.
آقای حقانی از تامین امنیت سفارت های کشورهای جهان در کشور اطمینان داده است.
در جریان ۹ ماه گذشته، پاکستان، روسیه، چین، ایران، ترکیه، قطر، امارات متحده عربی، عربستان سعودی و ازبیکستان از کشور های استند که سفارت های شان در کابل فعالیت دارند. #

## وزارت کار: برای حل چالش‌های کارگران، اتشه...

وزارت کار و امور اجتماعی می‌گوید که از بهر رسیده‌گی به چالش‌های کارگران افغان در بیرون از کشور، اتشه کار را ایجاد خواهد کرد.
محترم مخدوم عبدالسلام سعادت، معین این وزارت می‌افزاید که با قطر، امارت متحده عربی، سریلانکا و عربستان سعودی برای فرستادن کارگران به تفاهم رسیده است.
معین وزارت کار و امور اجتماعی می گوید: ما با چهار کشور قطر، عربستان، امارات متحده عربی و سریلانکا کوشش داریم، روابط خود را محکم بسازیم، چون اینها در تفاهم نامه‌یی که با حکومت قبلی امضا کرده بودند به اعزام کارگر از افغانستان تعهد کرده بودند و یکی از این کشورها گفته که ۵۰ هزار کارمند را می‌پذیرد.
عبدالنصیر رشتیا، آگاه مسایل اقتصادی می گوید: با اعزام نیروی کار در بیرون از کشور از یک طرف این کارمندان از نگاه اقتصادی می‌توانند خانواده‌های خود در داخل افغانستان حمایت مالی کنند و توان اقتصادی مردم بالا میرود از سوی دیگر از اینکه افغانستان با فقدان کارمندان مسلکی روبرو است می‌توانند این کارمند بگونه مسلکی و حرفه شغل را بیاموزند.
وزارت کار و امور اجتماعی می‌گوید که اشتغال زایی یکی از اولویت های مبرم نظام کنونی بوده و قرار است بیش از صد هزار تن در پروژه‌های گونه‌گون مانند پروژه کابل نوین، قوش تیپه، پروژ تاپی و دیگر پروژها در داخل کشور به کار گماشته شوند. #

**اقتصادي کمېسیون د افغانستان برېښنا شرکت ته اجازه ورکړه، څو له قراردادي شرکتونو سره د برېښنا شرکت د غیر اختیاري پروژو شوي قراردادونه فسخه، تجهیزات دې ترې تسلیم او پوره حفاظت دې ترې وکړي.**

## هېواد ته د پخوانیو چارواکو د راستنېدو...


د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست او د دغه کمېسیون رییس د دغه کمیسیون د کار له پیل سره وایي چې اسلامي امارت هغوی لپاره چې په شلو کلونو کې له هغوی سره په جګړه وو عمومي عفو اعلان کړې ده او هېواد ته د هغوی د راستنېدو غوښتونکي دی.
له افغان شخصیتونو سره د تماس کمیسیون رییس محترم شهاب الدین دلاور وایي: ټولو افغانانو ته زموږ پیغام دا دی چې دا یې هېواد دی او هغوی کولای شي چې دغه هېواد ته راستانه شي او کولای شي چې له ټولو امتیازیاتو برخمن شي.
د دغه کمیسیون تګلاره چې پنځلس مادې لري، هغو سیاسي څېرو ته چې هېواد ته راستنېږي، ډاډ ورکوي چې د اوسېدو لنډ مهاله ځایونه او ځانګړې کارتونه ورته په پام کې نیول شوي دي.
له افغان شخصیتونو سره د تماس کمیسیون ویاند محترم احمدالله وثیق څرګندوي: دا کمیسیون د هغو ټولو سیاسي او نظامي شخصیتونو په اړه بشپړ معلومات راټولوي او ځایونه یې تثبیتوي چې په هېواد کې د وروستیو تحولاتو څخه مخکې یا وروسته د نه خوندیتوب له امله بهر ته تللي یا په هېواد کې دننه دي. #

## د درې میلیون جلده نوي پاسپورټونو...




محترم شفیع تسل وایي: درې میلیونه پاسپورټونه چاپ شوي او پیسې یې هم ورکړل شوې دي.
دغه پاسپورټونه په لیتوانیا هېواد کې چاپ شوي او ټاکل شوې ده چې راولېږدول شي او د هغه د رالېږدولو لپاره هم خبرې شوې دي او ډېر ژر به هېواد ته راورسېږي.
د پاسپورټ ریاست ویاند شفیع تسل وایي: کله چې نوي پاسپورټونه راورسېدل په هېواد کې به د پاسپورټ مدیریتونه بېرته پرانیستل شي. #

## په افغانستان کې د انرژۍ د تولید په برخه کې د پانګونې د جلبولو...



کې پانګونه وکړي، د هر راز همکارۍ ژمنه کوو.
د کتنې په پای کې د یاد انستیتوت ارتباطي غړیو، د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژۍ د تولید په برخه کې د شرکتونو د پانګونې د جلبولو په موخه خپله طرحه د اوبو او انرژۍ وزارت له سرپرست وزیر سره شریکه کړه.
دا په داسې حال کې ده چې په دغو وروستیو کې په هېواد کې په بېلابېلو سکتورونو په تېره بیا د انرژۍ د تولید په برخه کې د پانګونې لپاره د کورنیو او بهرنیو پانګه والو لېوالتیا زیاته شوې ده. #




د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
**د اړیکي شمېره:** 202100633 (0) 93+
**ایمیل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرینه مانۍ، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان


## د ریاست الوزراء اداري مرستیال په مشرۍ د اداري کمېسیون غونډه ترسره شوه

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د اداري کمېسیون غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې د قانوني اسنادو نه لرونکو نقلیه وسایطو لپاره د اسنادو د وېش پر طرحې سربېره د نقلیه وسایطو د پېرلو په موخه د ملي تدارکاتو ادارې ریاست بانکي حساب ته د دولتي ارګانونو د پاتې شویو پیسو د لېږد او د اداري کمېسیون د طرزالعمل د ترتیبولو په اړه تر هراړخیزو بحثونو وروسته لازم تصمیمونه ونیول شول.#

## اسلامي امارت د واک انحصار نه غواړي

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر له یو شمېر افغان شیعه عالمانو او مخورو سره په خبرو کې ویلي، چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی او اسلامي امارت د واک انحصار نه غواړي.
محترم ملا عبدالغني برادر زیاته کړې: د افغانستان پرمختګ د دې هېواد د ټولو خلکو ګډ مسئولیت دی او د اسلامي امارت غېږه د ټولو هېوادوالو پر مخ خلاصه ده.
نوموړي همداراز زیاته کړې، چې د خلکو هوساینه او اقتصادي ثبات د اسلامي امارت اړین لومړیتوبونه دي.
شیعه عالمانو او مخورو ویلي، چې تل یې د اسلامي نظام او اسلامي امارت ملاتړ کړی او هغه کړنې او هڅې غندي، چې روان اسلامي نظام کمزوري کوي.
دوی همدارنګه اسلامي امارت په افغانستان کې د میشتو قومونو د یووالي او پیوستون مرکز وباله او څرګندوي: عالمانو تل د شیعه ګانو په سیمو کې د هر ډول بغاوت او ناامنۍ مخه نیولې ده.
د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال دفتر ویلي؛ دغه پلاوي له محترم ملا عبدالغنی برادر سره په لیکلې بڼه خپل وړاندیزونه شریک کړي دي.
د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال هم ویلي، چې د اسلامي امارت دروازې د ټولو افغانانو پر مخ خلاصې دي. موږ له هر هغه چا هرکلی کوو، چې افغانستان او د افغانستان خلکو ته خدمت کوي.
هغه د خلکو هوساینه او اقتصادي ثبات د حکومت له مهمو پروګرامونو بولي او وایي، چې موخه یې په لنډ مهال کې د اقتصادي وضعیت ښه کول، خلکو ته د کار زمینه برابرول او د هېواد د ملي عوایدو لوړول دي. #

## د افغانستان مشاهیر




### ملا دین محمد (مشک عالم)

ملا دین محمد (مشک عالم) اندړ چي په خپله سیمه کې یې په باباجي سره هم شهرت درلود د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ په ګنډه یېر کلي کې ښخ دی.
ملا مشک عالم دافغانستان د تاریخ هغه باب دی چې په لوستلو یې هر لوستونکي انسان د حق دسپینې لارې لاروي شي، قدرتي خبره ده چي دګران وطن نومیالي هر یو په خپله د اتلولي او نومیالي یو منور مینار دی چې رنګیني یې د تاریخ دنیا لور په لور منوره ساتلي دي، ولې غازي ملامشك عالم نه تنها دا چي د اتلولي د میدان شهسوار وو بلکي د علم، ادب، پوهي، تقوي او مبلغ په غوره اوصافو باندي موصوف وو.
ملا دین محمد (مشک عالم) د افغانستان په ولسونو کې ډېر نفوذ او قدر درلود، په دې توګه د سیمې یو څواکمن او منلی شخص وو، چې د ملت تر څنګ د حکومتي چارواکو لپاره هم د درنښت وړ وو، په خپله امیر شېرعلي خان نوموړي ته ډېر درناوی درلود او دربار ته به یې ور تلی، همدا رنګه عصمت الله خان چې د امیر شېر علي خان وزیر وو، هم ملا صاحب ته ډېر درناوی درلود او مرید یې وو، چی پیاده به د ملا صاحب کورته ورتلی او نوموړی یې د خپل بخت، برکت او بریا عامل ګاڼه. لنډه دا چي یاد نومیالي د هېواد د بېلا بېلو ولسونو په منځ کې ځانګړی ځای لري.
رابرتس په ۱۸۷۹ زیږدیز کال کې د کیوناري د وژنې په تور ګڼ شمېر افغانان شیهدان کړل، پدې وخت کې ملا مشک عالم په غزني کې لویه جرګه راوغوښتله او د انګریزانو پر وړاندې یې د جهاداعلان وکړ. همدارنګه، کله چې عبدالرحمن خان د مجاهدینو او خپل ولس په وړاندې نامناسب حرکات شروع کړل نو ملا مشک عالم یې پر وړاندی مبارزه پیل کړه. نومیالي مشر د ۹۴ کالو په عمر ومړ. روح دې ښاد وي.

## د آسیا ماینینګ روسي ګروپ په افغانستان کې د کانونو په سکتور کې پانګونې ته لېواله ده

د افغانستان  اسلامي امارت د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د آسیا ماینینګ روسي ګروپ له مسئولینو سره په سپیدار مانۍ کې وکتل.
په پیل کې، یاد پلاوي افغانستان ته خپل د راتګ موخه، د کانونو په برخه کې پانګونه وبلله او زیاته یې کړه چې د آسیا ماینینګ روسي ګروپ لېواله ده چې په دې برخه کې پانګونه وکړي.
وروسته، محترم مولوي عبدالکبیر په افغانستان کې د پانګونې په اړه، له دوی څخه په مننې وویل، د افغانستان اسلامي امارت غېږه ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته خلاصه ده او اسلامي امارت پانګوالو ته د امنیت او مصؤنیت د تضمین ترڅنګ، په هره برخه کې همکارۍ ته چمتو دی.#



## د اسلامي امارت د ریاست الوزرا د دفتر عمومي رئیس په مشرۍ د اداري پلاوي غونډه جوړه شوه



د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکتر ملا عبدالواسع په مشرۍ د اداري پلاوي غونډه په چهار چنار مانۍ کې جوړه شوه.
په دې غونډه کې چې د ریاست الوزرا د دفتر د عمومي رئیس مرستیالانو او د بېلابېلو ریاستونو او ادارو مسئولینو او استازو حضور درلود.
د ریاست الوزرا د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکتر ملا عبدالواسع هغوی ته د ښه راغلاست پرمهال وویل، د دې غونډې موخه د همکارانو او مسئولینو معرفت او په اړوندو چارو کې لاښه همغږي او اصلاحات دي. نوموړي په ادارو کې د خلاوو او ستونزو پر مناسب حل د ټینګار ترڅنګ مسئولینو ته په چارو او خدماتو کې د لا ښه ترسره کېدو هیله وکړه.
د اداري پلاوي په دغه ناسته کې د بېلابېلو ادارو د خدماتو او چارو د لا ښه والي، همغږۍ او اصلاحاتو په موخه د اجنډا مطابق په اړوندو مسایلو د بحث او خبرو پرمهال لازمي پرېکړې او لارښوونې وشوې. همدارنګه په راتلونکي کې هم د دغه ډول ناستو پر دوام ټینګار وشو. #

## په افغانستان کې د انرژۍ د تولید په برخه کې د پانګونې د جلبولو طرحه شریکه شوه



د «Schiller» نړیوال انستیتیوت ارتباطي غړیو د اوبو او انرژۍ وزارت له سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور سره په کتنه کې، په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژۍ د تولید په برخه کې د سترو شرکتونو د پانګونې د جلبولو ژمنه وکړه.
په دې کتنه کې، د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر هم په هېواد کې د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژۍ د تولید په برخه کې د یاد انستیتیوت ارتباطي غړیو ته د زمینې برابرولو ژمنه کړې ده.
هغه زیاته کړه: په افغانستان کې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره، په ټول هېواد کې امنیت ټینګ شوی او موږ ټولو هغو کورنیو او بهرنیو شرکتونو ته چې غواړي په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژۍ د تولید په برخه پاتې ۵

## فواید عامه: شاهراه کابل-کندهار-هرات بازسازی می‌شود

وزارت فواید عامه می گوید که بازسازی شاهراه‌های کابل-کندهار و کندهار-هرات که ۹۰۰ کیلومتر طول دارد، به داوطلبی گذاشته شده و شرکت‌های داخلی و سرمایه‌گذاران می‌توانند درخواست‌های شان را برای این کار به این وزارت بفرستند.
محترم حمیدالله مصباح، سخنگوی وزارت فواید عامه، هدف از ساخت و ساز این شاهراه را فراهم کردن فرصت‌های سرمایه‌گذاری می‌داند.
سخنگوی وزارت فواید عامه می گوید: مصارف پروژه را در جریان کار از عواید سرک و یا بعدا از عواید مشخص تردد جریان ترافیک به منظور ترمیم این شاهراه نه صد کلیو متر به بخش‌های مختلف که هر کدام آن صد کلیو متر طول دارد تقسیم شده است.
در همین حال، برخی از مهندسان به این باور اند که به دلیل استفاده از مواد ساختمانی با کیفیت پایین و رفت و آمد موترهای بلند تناژ، جاده کابل-کندهار-هرات تخریب شده است.
از سویی هم، شورای انسجام ترانسپورت زمینی افغانستان می‌گوید که در حال حاضر با فعال شدن اداره ترازوهای تناژ بلند، از رفت و آمد موترهای بلند تناژ جلوگیری خواهد شد.
شاهراه کابل-کندهار و کندهار-هرات از شاهراه‌های مهم کشور شمرده می‌شود که در بخش داد و ستد افغانستان نقش مهم دارد. #

**دمتعهد او ژمن خبریال دنده او وظیفه دا ده چي خلکوته په رېښتوني ډول حقایق وړاندي کړي نه دا چي ناسم خبر ته سم رنګ ورکړي یا هم سم خبر ته ناسم، څکه داسي څه کول له خپل حیثیت سره لوبې او له ژورنالیزم سره ستر خیانت او جفا ده، باید په کلکه څان تري وساتل شي. خو متأسفانه چې په ښکاره ډول مو په دې وروستیو کې داسې څه تر سترګو کیږي چې باید نه وای.**

قاري محمد یوسف احمدي
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس